د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت
د ارشـــــاد، حج او اوقــــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

---

۲۶/ رمضان المبارک /۱٤٤٥هـ، ق موافق ۱۷ / حمل/۱۴۰۳هـ،ش

# د رمضان المبارک د اخیري عَشَرِې او لیلة القدر فضیلتونه

الحمد لله الذي أعزنا بالإسلام، وأكرمنا برمضان، وجعل العشر الأواخر منه من أفضل الأزمان، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله، خير الأنام، وأفضل من صلى وصام، وسنَّ التهجد والقيام، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه، ومن اهتدى بهديه، واتبع سنته إلى يوم الدين؛ أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى:(إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ . وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ . لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ . تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ . سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ). سورة القدر: (٥)

**د اخیري عَشَرِې فضیلت:**

د هري ګټې او تجارت لپاره یو موسم مقرر وي، تاجران د هغه موسم لپاره ډیر انتظار کوي، د هغه لپاره تیاری نیسي مزدوران زیاتوي چې کار یې تیز وچلیږي، ښه ښه مالونه راوړي چې ګټه یې زیاته شي، الله جل جلاله د خپل مخلوق لپاره هم د عباداتو یو موسم ټاکلی دی، پوره یولس میاشتې خلک آزاد ګرځي نه وربانديې پابندي وي او نه ورځخه د څه زیاته مطالبه، خو کله چې د رمضان میاشت راشي نو د الله تعالی لپاره ټول خلک روژه نیسي، او کوښښ کوي چې څونه یې وس وي هغومره زیات عبادت وکړي، خو الله تعالی هم د دې میاشتې لپاره د جنتو د تیارولو ، او د دوزخ د دروازو دبندیدلو ، او د شیطانانو د تړلو حکم کوي.

کله چې مسلمان د الله د رضا لپاره پوره شل ورځې روژه ونیسي، نور عبادات وکړي، د الله د رحمت او مغفرت څخه برخمن شي، یواځې دا پاتې وي چې الله پاک یې د دوزخ د اور څخه د خلاصون اعلان وکړي.

د سلمان فارسي رضي الله عنه څخه روایت دی: چې د دې میاشتې اوله برخه رحمت دی او منځنۍ برخه یې مغفرت دی او اخیره حصه یې د اور څخه خلاصون دی.

دغه وجه ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به د روژې په اخیري لسو ورځو کې دومره کو ښښ کولو چې په نورو ورځو کې به یې نه کولو، کله چې به د روژو اخیري لس ورځې داخلی شوی ، پیغمبرعلیه السلام به خپله ملا عبادت ته وتړله او د دې ورځو په عبادت کې به یې دومره کوښښ کولو چې په نورو ورځو کې به یې هغومره نه کولو. له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی هغه فرمایي: (عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ وَأَحْيَا لَيْلَهُ وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ) صحيح البخاري ژباړه: دنبی کریم صلی الله علیه وسلم عادت مبارکه به دا و چې کله به آخری عشره را داخله (یعنی شروع شوه نو خپل تهبند(ازار) به یې مضبوط او تړل ، ټوله شپه به یې په عبادت کې تیروله او خپل کورواله بیبیاني او نور متعلقین به یې هم را ویخول) ددې دپاره چې دوی هم ددې برکتي شپو سعادت حاصل کړي.

تشريح (:  شَدَّ مِئْزَرَهُ) خپل تهبند(ازار) به يې مضبوط او تړل. دا کنايه ده ددينه چې نبی کريم  صلی الله عليه و سلم به دخپل عادت او معمول نه زيات په عبادت کې کوشش کولو.يا دا کنايه ده چې ددينه چې پيغمبر عليه السلام به په آخري عشره کې د خپلو بيبيانو نه جدا اوسيدلو په مونځ، ذکر او قرآن کريم په تلاوت کې به مشغول و.

د علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې کله به د روژې اخير ي لسمه راغله نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم به خپله کورنۍ د  شپې را پورته کوله چې د الله تعالی عبادت وکړي. (عَنْ عَلِيٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ كَانَ يُوقِظُ أَهْلَهُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ). سنن الترمذي (٣ /١٦١)

په يو بل روايت کې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: (كَانَ رسولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - يَجْتَهِدُ في رَمَضَانَ مَا لاَ يَجْتَهِدُ في غَيْرِهِ ، وَفي العَشْرِ الأوَاخِرِ مِنْهُ مَا لا يَجْتَهِدُ في غَيْرِهِ) رواه مسلم .

ترجمه:- پيغمبرعليه السلام به په رمضان مياشت کې په عبادت کې دومره زيات کوښښ کاوه چې په بله مياشت کې به يې هغومره نه کولو او د رمضـان په اخيري لسـو ورځو کې به يې دومره زيات کوښـښ کولو چې په نورو ورځو کې به يې هغومره نه کاوه.

سـفيان ثوري رحمه الله وايي: چي د روژې په اخيري لسـو ورځو کي ماته دا ډير خوند راکوي چي د شـپي تهجد کوم او ښه په کوښښ سره يي ادا کړم، او خپل کورني او بچيان چي د لمانځه وس لري را پاسه وم).لطايف المعارف.

ددې امت غوره خلکو صــحابه کرامو اوتابعينو مجتهدينو به د رمضـــان المبارک په اخيري لســو ورځوکې په عبادت کې ځانګړي کوښښونه کول.

کله به چې لس اخيري ورځې داخلې شوی امام ايوب سختياني رحمه الله به په درويشتمه روژه غسل وکړ او خوشبوی به يي ولګوله.

دتميم الداری رضي الله جليل القدرصـــحابی څخه نقل دي چې هغه يوځل دليلة القدر شــپې لپاره يوه جوړه جامې په زر١٠٠٠ دينارو واخيستله چې په بل وخت کې به يي نه اغوستله.  سيراعلام النبلاء

حضـرت عمر رضي الله عنه به دشـپې په تهجدو کې زيات کوښـښ کولو کله به چې شـپه نيمه شـوه دکورخلک به يي راپاخول او دا آيت شريف به يي ورته لوسـتلو: (وَأمُر أَهلَكَ بِالصَّـلاةِ وَاصـطَبِر عَلَيها لا نَسـأَلُكَ رِزقًا نَحنُ نَرزُقُكَ وَالعاقِبَةُ لِلتَّقوى). الموطأ - رواية محمد بن الحسن (١ /٢٥٩)

صحابه کرامو او تابعينو به دروژې په اخيري لسو ورځو کې زيات کوښښ کولو او زيات تلاوت به يي کولو.

حضـرـت قتاده رحمه الله  به دروژې په نورو ورځو کې درې ورځو کې دقرآن کريم ختم کاوه، کله به چې اخيري لس ورځې داخل شوی هره شپه به يي قرآن کريم ختمولو.لطايف المعارف

امام ا سود بن يزيد رحمه الله چې جليل القدر تابعی دی هغه به په دوو ورځو کې قرآن کريم ختمولو. فضائل القرآن للقاسم بن سلام (ص: ١٨٠)

اي د الله تعالی نيکو بندګانو !د روژې اخيري لس ورځې د فايدې او د ګټې وخت دی پام کوئ چې ضايع نه شي بيا الله تعالی پوهيږي چې تر بلې روژې به څوک مړه وي اوڅوک ژوندي، شــپه او ورځ کوښــښ وکړئ چې  الله تعالی مو د اور څخه خلاص کړي، خپله کورنۍ تشويق کړئ چې د اور څخه  خلاصی وومي، ذکر، تسبيح، لمونځ ، تلاوت، درود هر څه چې اسانه وي په هغه کې ځانونه مشغول وساتئ.

او د ډيرې ګټې خبره خولا داده چې د اللـه څخـه دعـاوي وغواړئ، د خپـل اســلامي نظام دبقـا او ثبـات لپـاره  او خصوصادفلسطين دمجاهدينو او عوامو لپاره چې دا وخت په ډير سخت حالت کی دي

د رمضان وروستی لس ورځې جلا ځانګړتیاوې لري چې د کال په نورو ټولو شپو او ورځو غوره والي او برتري لري، او دا هغه شپې دي چې ر سول الله صلی الله علیه و سلم به ټولې په عبادت سره ژوندۍ ساتلې، په دې کې یوه د لیلة القدر شپه هم ده چې له زرو میاشتو غوره ده.

نو هر مسلمان ته مستحب دي چې په دې لسو ورځو کې الله تعالی ته د خپل عبودیت مفهوم په خپل عامه او خاصه بڼه ژوندۍ کړي، او د خپل نفس په تزکیه باندې زیات ترکیز وکړي، خپل زړه اصلاح کړي او د خیر په کارونو کې هم برخه واخلي.

## د رمضان المبارک په اخیري لسو شپو او ورځو کې ځینې غوره اعمال:

په دې شپو او ورځو کې شریعت هر مسلمان ته یو لړ نیک اعمال په ګوته کړي چې یو څو یې په لاندې ډول دي:

**۱. د لیلة القدر فضیلت ترلاسه کول:** د لیلة القدر شپه د ټول کال د شپو نه تر ټولو غوره شپه ده، الله تعالی یې په اړه فرمایلي دي: (لیلة القدر خیر من الف شهر) یعنی له زرو میاشتو نه غوره ده په دې معنی چې تقریبا(۸٤) کلونو له عبادت نه هم د دې یوې شپې عبادت غوره او بهتره دی، نو د دې لسو شپو یو غوره فضیلت دا دی چې که یو مسلمان د شپې عبادت له دغې شپې سره برابر شي، نو یواځې همدغه یوه شپه عبادت ورته د ده د ټول ژوند له عبادت نه غوره دی.

**۲. اعتکاف ته کیناستل:** پدې وروستیو لسو شپو او ورځو کې د مستحبو نیکو عملونو او عبادت کولو لپاره په مسجد کې شپه او ورځ کیناستل دي، له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه صحیح روایت رسیدلی دی چې هغه به د هر رمضان په وروستیو لسو شپو او ورځو کی اعتکاف کاوه تر هغې چې وفات شو.

**۳ . د قرآن کریم تلاوت کول:** د رمضان میاشت د قران کریم د زیات تلاوت، تدبر او خشوع میاشت ده، الله تعالی فرمایلي دي: (شهر رمضان الذي أنزل فیه القرآن هدی للناس و بینات من الهدی و الفرقان) یعنې د رمضان میاشت هغه میاشت ده چې قرآن په کې نازل شوی دی، د خلکو لپاره هدایت دی او دلائل د هدایت دي او د حق او باطل تر منځ فرق کوونکی دی ). نو د دې میاشتې د ټولو شپو او ورځو د یوې یوې دقیقې نه باید ګټه پورته کړو، په تیره بیا د وروستیو لسو شپو او ورځو نه چې باید د عبادت لپاره ورته ځانونه پوره فارغ کړو، نبی صلی الله علیه وسلم به د جبریل علیه السلام سره د رمضان په میاشت کې هره ورځ د قرآن تکرار او درس کاوه.

**۴. د الله په لار کی خپل مال نفقه کول:** د رمضان په ټوله میاشت کی زیاته صدقه کول مستحب دي او په دې وروستیو لسو ورځو کې بیا په ځانګړي ډول ډیر اجر او ثواب لري، خو چې اسراف او ځان ښودنه په کې نه وي، د نبي علیه السلام به تل د ټولو خلکو نه تر ټولو ډیر سخاوت والا ؤ او په ځانګړی توګه د رمضان په میاشت کې به یې تر ټولو زیات سخاوت کاوه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم، صحابه کرام، تابعین او د اسلام نور ستر دیني عالمان د رمضان وروستیو لسو ورځو ته په ځانګړي اهمیت باندې قائل وو او د ټولو دا هڅه وه چې دا لس ورځې د الله په عبادت، ذکر او طاعت باندې تیرې کړي.

**۵. د تهجدو لمونځ کول:** د رمضان په اخیري لسو شپو کې باید مسلمان د تهجدو لمونځ وکړي او دا شپې په عبادت ډکې کړي .

که چیرې په لسو شپو کې هره یوه شپه ټوله په عبادت ډکه شي خو دا تر ټولو غوره ده، مګر که دا سې نشو کولای نو مونږ کولای شو چې د شپې په اوله حصه کې د تهجدو لمونځ وکړو، د شپې په منځنۍ حصه کې وکړو او کولای شو چې د شپې په آخري حصه کې د تهجدو لمونځ وکړو .په قیام اللیل کې دا حتمي نه ده چې ټوله شپه لمونځ وشي بلکې که

چيرې څوک لمونځ باندې سترې شي کولای شي چې لاندې لاندې اعمال وکړي: د قرآن کريم تلاوت،استغفار ويل او له الله تعالی نه بخښــنه غوښــتل، مســنونه اذکار چې خورا زيات ډولونه دي، ځان او خپلې کورنۍ ته دعاوې کول، خپلو دوســتانو ته دعاوې کول، ټولو مســلمانانو ته دعاوې کول په ځانګړې توګه هغو مســلمانانو ته دعا کول چې د ظلم او شکنجو لاندې شپې ورځې تيروي.

## د ليلة القدر فضيلت :

د ټولو فقهاوو په دې اجماع ده چې ځينې وختونه او زمانې په ځينو نورو بهتره او غوره دي د هغه فضيلت له امله چې الله تعالی ورته ورکړی دی، لکه د رمضان المبارک مياشت چې په نورو مياشتو بهتره ده او د ليلة القدر شپه چې د کال په ټولو هغو شپو بهتره ده چې د ليلة القدر شپه په کې نه وي.

د ليلة القدر شــپې په باره کې الله جل جلاله فرمايلي دي: (إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ . وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ . لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ . تَنَزَّلُ الْمَلائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ . سَلامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ). سورة القدر: (٥)

ترجمه:- بېشکه مونږ دا (قرآن) د قدر په شپه کې نازل کړی دی او ته څه شي پوه کړې چې د قدر شپه څه شی دی؟ د قدر شــپه له زرو مياشــتو نه غوره ده په دغه (شــپه) کې (نور) ملايك او روح (جبريل) د خپل رب په حکم سره نازلېږي لپاره (د پوره کولو) د هر (مقرر شوي) کار (دغه شپه) سلامتيا ده، دغه (شپه) تر سبا ختلو پورې ده

ليلة القدر ته د (قدر) شپه ځکه وايې چې قدر عزت او شرف ته وايې او دا شپه هم با عزته او باشرفه شپه ده ؛ ځکه چې په دې شپه کې قرآن کريم نازل شوی دی او په دې شپه کې ملائکې ځمکې ته رابښکته کيږي او په دې شپه کې د الله تعالی ځانګړي رحمتونه نازليږي. او ځينې فقهاء وايې چې ليلة القدر شپې ته (د قدر ) شپه ځکه وايې چې (قدر) قضاء، حکم او فيصلې ته وايې او په دې شپه کې هم د الله تعالی په امر سره ملائکې د انسانانو رزقونه او اجلونه فيصله کوي او ليکي يې؛ لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: { إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِينَ فِيهَا يُفْرَقُ كُل أَمْرٍ حَكِيمٍ أَمْرًا مِنْ عِنْدِنَا إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ } الدخان: (٢-٥)

ترجمه:- بې‌شکه مونږ دا (قرآن) په مبارکه شپه کې نازل کړی دی، بې‌شکه مونږ وېروونکي وو په دغې ( شپه) کې هر له حکمته ډك كار بيانولی (او بېلولی) شي زمونږ له جانبه د حکم ورکولو په وجه (حکم ورکول دي زمونږ له جانبه) بېشــکه مونږ ( د رسولانو) لېږونکي وو

جمهور علماء وايې چې ددې مبارکې شپې څخه مراد د ليلة القدر شپه ده او د شعبان پنځلسمه شپه ورڅخه مراد نه ده. روح المعاني (٢٥ /١١٠)

امام ابن قدامه وايې: ليلة القدر عزتمنه، مبارکه او معظمه شپه ده، ددې وجې نه ويل کيږي چې په دې شپه کې په دې کال کې واقع کيدونکي خير او مصيبت، رزق او برکت ليکل کيږي. المغني(٣ /١١٧)

فقهای کرام وايې چې د لاندې دلائلو په اساس د ليلة القدر شپه ددنيا د ټولو شپو څخه بهتره او غوره ده :

١- په دې شــپه کې عبادت، نيک او صــالح عمل بهتر دی د زرو مياشــتو د عبادت، نيک او صــالح عمل څخه. الله تعالی فرمايلي دي: { لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ } .

۲- د ليلة القدر په شپه کې د انسانانو رزقونه او اجلونه ټاکل کيږي: دا هغه مبارکه شپه ده چې په دې شپه کې د انسانانو رزقونه، اجلونه ، دخير او شر، رزق او روزی فيصـــلې په کې کيږي لکه چې الله تعالی فرمايلي دی:{ إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِينَ فِيهَا يُفْرَقُ كُل أَمْرٍ حَكِيمٍ } . الدخان: (۲-۵)

مشهور مفسر قتاده رحمه الله او نور مفسرين فرمايي:(تقضى فيها الأمور وتقدر الآجال والأرزاق). تفسير ابن كثير (٤ / ٦٥٠)

ترجمه:- د ليلة القدر په شپه کې فيصله کيږي د کارونو او مقرريږي په کې اجلونه او رزقونه.

۳- په دې شپه کې د رحمت ملائکې نازليږي: ددې څخه علاوه په دې شپه کې ملائکې د الله تعالی په حکم سره ځمکې ته رابښـــکته کيږي، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: { تَنَزَّل الْمَلاَئِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُل أَمْرٍ } امام قرطبی وايي: رابښـکته کيږي ملايکی د هر آسـمان څخه او د سـدرة المنتهی څخه ځمکې ته او د خلکو په دعاګانو آمين وايې تر فجر ختلو پورې او نازليږي ملائکې او جبرائل عليه السـلام په ليلة القدر شـپه کې په رحمت سره دالله تعالی په امرسره او د هر هغه کار سره چې الله تعالی يی په دغه شپه کې په اړه قضاء او فيصله کړي وي. تفسير القرطبي (۲۰ /۱۳۳)

۴- د ليلة القدر په شـپه کې خير موجود وي او د شـيطان د هر ډول شر څخه په کې امن او امان موجود وي. الله تعالی فرمايلي دي: { سَلاَمٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ }

امام ضحاك رحمه الله ددې آيت په تفسـير کې وايي:(لاَ يُقَدِّرُ اللَّهُ فِي تِلْكَ اللَّيْلَةِ إِلاَّ السَّـلاَمَةَ وَفِي سَـائِرِ اللَّيَالِي يَقْضِي- بِالْبَلاَيَا وَالسَّلاَمَةِ). نه فيصله کوي الله تعالی په دې شپه کې مګر سلامتيا او په نورو شپو کې الله تعالی د مصيبتونو او سلامتيا دواړو فيصلې کوي.
امام مجاهد رحمه الله ددې آيت په تفسيرکې ووايي:(هِيَ لَيْلَةٌ سَالِمَةٌ لاَ يَسْتَطِيعُ الشَّيْطَانُ أَنْ يَعْمَل فِيهَا سُوءًا وَلاَ أَذًى ).تفسير القرطبي (۲۰ /۱۳٤)

دا داسې شپه ده چې سالمه ده ، شيطان نشي کولای په دې شپه کې چې بدي او زيان وکړي. يعنې چاته بدي او زيان نشي رسولی.
۵- ليلة القدر د محمدي (صـلی الله عليه وسـلم) امت خصـوصـيت دی: جمهور فقهاء په دې نظر دي چې ليلة القدر د محمدي (صلی الله عليه وسلم ) امت خصوصيت دی او په نورو سابقه امتونو کې د ليلة القدر شپه نه وه. ددوی دليل دا روايت دی:
عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ : أَنَّهُ سَمِعَ مَنْ يَثِقُ بِهِ مِنْ أَهْل الْعِلْمِ يَقُول : إِنَّ رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيَ أَعْمَارَ النَّاسِ قَبْلَهُ ، أَوْ مَا شَـاءَ اللَّهُ مِنْ ذَلِكَ ، فَكَأَنَّهُ تَقَاصَرَ أَعْمَارَ أُمَّتِهِ أَنْ لاَ يَبْلُغُوا مِنَ الْعَمَل مِثْل الَّذِي بَلَغَ غَيْرُهُمْ فِي طُول الْعُمُرِ ، فَأَعْطَاهُ اللَّهُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ). الإمام مالك في الموطأ ( ۱ / ۳۲۱ ) بلاغًا .
ترجمه:- مالک بن انس د هغه چا څخه اوريدلي دي چې په هغه يې بارو دی د اهل علمو څخه چې رسـول الله صـلی الله صـلی الله عليه وسـلم ته د تيرو خلکو عمرونه ور وښـودل شـول ګويا پيغمبر عليه السـلام د خپل امت عمرونه کم وبلل نسبت د تيرو امتونو عمرونو ته او دايې وګڼله چې دده امت به هغومره عملونو کولو ته ونه رسيږي کومه اندازه عملونه به

چې هغو تيرو امتونو كول د زيات عمر له امله ، نو الله تعالى نبي عليه السـلام ته يې شـپه د ليلة القدر وركړه چې دا مياشت غوره ده د زرو مياشتو څخه.

يو په يو بل روايت كې راځي:(عَنْ مُجَاهِدٍ : أَنَّ النَّبِىَّ -صلى الله عليه و سلم- ذَكَرَ رَجُلاً مِنْ بَنِى إِسْرَائِيلَ لَبِسَ السِّلاَحَ فِى سَـبِيلِ اللَّهِ أَلْفَ شَـهْرٍ قَالَ فَعَجِبَ الْمُسْـلِمُونَ مِنْ ذَلِكَ قَالَ : فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ (إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِى لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُالْقَدْرِ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَـهْرٍ). الَّتِى لَبِسَ فِيهَا ذَلِكَ الرَّجُلُ السِّـلاَحَ فِى سَـبِيلِ اللَّهِ أَلْفَ شَـهْرٍ). وَهَذَا مُرْسَـلٌ. السنن الكبرى للبيهقي (٤ /٣٠٦)

ترجمه:- د امام مجاهد رح څخه روايت دى چې بيشـكه نبي عليه السـلام په بني اسرائيلو كې د يو سـړي ذكر وكړ چې هغه به د الله تعالى په لار كې(جهاد) سلاح اغو ستلې وه زر ميا شتى, راوي وايې چې ددې څخه مسلمانانو تعجب وكړ, بيا الله تعالى سورت قدر نازل كړ, چې په هغې كې د قدر شپه ده چې د هغو زرو ميا شتو څخه غوره ده چې هغه سړي په كې سلاح په تن كې كړې وه د الله تعالى په لاره كې (جهاد كې).

د ټول امت فقهاء په دې متفق دي چې د ليلة القدر شـپه كې عبادت كول مسـنون او مسـتجب عمل دى او نبي عليه السـلام ددې شـپې عبادت ته خپل امت هڅولى دى او هغوى ته يې ددې ترغيب وركړى دى چې ليلة القدر د رمضـان المبارك په اخيري لسو سپو كې ولټوئ.

په ليلة القدركې عبادت كول د ګناهونو د ببښـلو سـبب دى.په حديث شريف كې راځي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ قَالَ مَنْ صَـامَ رَمَضَـانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَـابًا غُفِرَلَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ).متفق عليه

ترجمه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې نبي عليه السلام فرمايلي دي څوک چې روژه ونيسي د رمضان د ايمان په بنا او د ثواب په نيت وبه ببنـل شي ورته هغه ګناهونه چې مخكې تير شـوي دي او څوک چې قيام وكړي دليلة القدر دايمان په بنا او دثواب په نيت وبه ببنـل شي ورته هغه ګناهونه چې مخكې تير شـويدي.(يعنى مخكى يې كړي دي)

په يو بل حديث شريف كې راځي: (عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَ سُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْوِتْرِ مِنْ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ). صحيح البخاري( ٥ /١٥٢)

ترجمه:- د عائشې رضى الله عنها څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ولټوئ ليلة القدر په طاق اخيري لسو شپو درمضان المبارک كى.

علماى كرام په دې متفق دي چې ليلة القدر شـپه د رمضـان المبارك په اخيري طاقو شـپو كې وي.په حديث شريف كې راځي:

(عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ الْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي تَاسِعَةٍ تَبْقَى فِي سَابِعَةٍ تَبْقَى فِي خَامِسَةٍ تَبْقَى). صحيح البخاري (٥ /١٥٥)

ترجمه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چې نبي عليه السـلام فرمايلي دي ولټوئ (ليلة القدر) د رمضـان المبارك په اخيري لسـو شـپو كې كله چې نهه روژې پاتې شي(يعنې يوويشـتمه شـپه كى ) ، كله چې اوه روژې پاتې شي (يعنې درويشتمه شپه كى ) ، كله چې پنځه روژې پاتې شي(يعنې پنځه ويشتمه شپه كى ).

په اكثرو رواياتو او د علماوو په اقوالو كې راځي چې ليلة القدر د رمضان المبارک په اووه ويشتمه (٢٧) شپه كې ده.

په يو حديث كې راځي: (عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ مَنْ كَانَ مُتَحَرِّيهَا فَلْيَتَحَرَّهَا لَيْلَةَ سَـبْعٍ وَعِشْرِينَ). مسند أحمد (٨ /٤٢٦)

ترجمه:- د عبدالله بن عمررضي الله عنه څخه روایت دی چې رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم فرمایلي دي څوک چې د(لیلة القدر) شپه لټوي نو ودې لټوئ په اووه ویشتمه(۲۷) شپه کې .
امام طحطاوي رحمه الله لیکلي دي:( وذهب الأكثر إلى أنها ليلة سـبع وعشرـين وهو قول ابن عباس وجماعة من الصحابة ونسبه العيني في شرح البخاري إلى الصاحبين). حاشية الطحطاوي على المراقي (ص: ٢٦٤)
داکثرو علماوو په نزد (لیلة القدر) په اووه ویشـتمه شـپه کې ده او دا دعبدالله بن عباس او نورو صـحابه وو نظر دی رضوان الله تعالی علیهم اجمعین او بدرالدین عیني د بخاري په شرح کې دا قول صاحبینو ته منسوب کړی دی.
د لیلة القدر شپه د ژوندیٰ ساتلو څخه مراد په دغه شپه کې عبادت کول دي لکه لمونځ کول، د قرآن کریم تلاوت، اذکار لوستل، دعاګاني کول او نور مختلف عبادتونه کول دي او د لیلة القدر په شپه کې دا دعاء زیاته لوستل سنت دي. د قدر شپې ځانګړې دعا(عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ إِنْ عَلِمْتُ أَيُّ لَيْلَةٍ لَيْلَةُ القَدْرِ مَا أَقُولُ فِيهَا؟ قَالَ: " قُولِي: اللَّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي)سنن الترمذي
ترجمه:- له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې ما پیغمبر علیه السلام ته عرض وکړ ای د الله جل جلاله ر سوله که چیری را معلومه شي چې دا د قدر شـپه ده نو درب العالمین په دربار کی څه و وایم او کومه دعا وکړم؟ حضـور صـلی الله علیه وسـلم وفرمایل دا دعا ووایه ( اللهم انك عفو كريم تحب العفو فاعف عني) ، یا الله په رښـتیا چې ته ښښـونکی کریم ذات یې او عفو خوښوی نو زما خطاګانی و ښښه
په همدی خاطر د الله د ډیرو نیکو بندګانو عادت دادی چې هره شپه دغه دعا وایي او د رمضان مبارکې میاشتي په شپو کې خصوصاً د وروستی لسیزې په طاق شپو کې زیاته توجه او اهتمام ورته کوي نو را شئ چې مونږ هم دغه دعا هیره نکړو.
## د لیلة القدر شپې د پټوالي حکمت:
په دې د ټولو فقهاوو اتفاق دی چې لیلة القدر د رمضان په اخیري لسو شپو کې ده او په وترو (طاق) شپو کې ده خو دا بیا په قطعي او یقیني ډول معلومه نه ده چې د طاق په کومو شپو کې ده؟ ځکه چې د طاق شپو په هره شپه کې روایات راغلي دي.
نو لیلة القدر په طاقو شپو کې پټه پاتې شوه، علمای کرام وایې چې ددې پټوالي ترشا زیات حکمتونه پراته دي.
حافظ ابن حجررح وایي: د لیلة القدر شـپې په پټوالي کې حکمت دادی چې ترڅو د هغې په لټولو کې زیات جهد او اجتهاد وشي؛مګر که دلیلة القدر شـپه معلومه وای نو خلکو به یواځې په همغه شـپه کوښـښ او عبادت کولو او په نورو کې شپو کې به یې په عبادت کې کوښښ نه کولو.فتح الباری (۳۱۵/۴)
امام فخرالدین رازي وایي: الله تعالی دا شپه د څو وجوهاتو څخه پټه کړی ده: لومړی: الله تعالی لیلة القدر شپه داسې پټه کړی ده لکه چې په طاعاتو کې یې خپله رضـا پټه ساتلی ده ترڅو خلک زیات عبادتونه وکړي او خپل غضـب یې په معاصیو کې پټ سـاتلی دی ترڅو خلک د ټولو ګناهونو څخه ځانونه وساتي، او خپل ولي یې په بندګانو کې پټ سـاتلی دی ترڅو دټولو خلکو عزت وشي،
او ددعاء دقبلیدو وخت یې پټ ساتل دی ترڅو خلک په دعاګانو کې هر وخت کو ښښ وکړي او خپل ا سم اعظم یې په خپلو نومونو کې پټ سـاتلی دی ترڅو خلک دالله تعالی د ټولو نومونو عظمت وساتي او صلاة وسطی یې په پنځه وخته لمونځونو کې پټ ساتلی دی ددې لپاره چې په ټولو لمونځونو باندې اهتمام وشي او د توبې قبلیدل یې پټ ساتلي دي ، ددې لپاره چې مکلف انسـان په هر وخت کی د توبې پر ویسـتلو اهتمام وکړي او د مرګ نیټه یې پټه سـاتلی ده ترڅو مکلف ورڅخه وویریږي او د لیلة القدر شـپه یې پټه سـاتلی ده ترڅو خلک د ټولو شـپو احترام وکړي او عبادت په کې وکړي. دوهم داچې الله تعالی دا شپه ځکه پټه ساتلی ده که چیرې ښکاره وایې بیا به خلکو ګناهونه کول په دی طمع

چې د ليلة القدر په شپه به توبه وباسم او ګناهونه به راته معاف شي نو خلکو به د ګناهونو په کولو جرآت پيدا کړی وای. مفاتيح الغيب أو التفسير الكبير (۳۲ /۲۲۹)

**دليلة القدر علامات:** ځينو رواياتو کې د ليلة القدر شپې لپاره علامات ذکر شوي دي چې په لاندې ډول دي:

**۱-** د ليلة القدر د شپې په سهار به لمر سپين وي او شعاع به نلري. د ابی بن کعب رضي الله عنه په حديث کې راځي: (وَأَمَارَتُهَا أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فِي صَبِيحَةِ يَوْمِهَا بَيْضَاءَ لاَ شُعَاعَ لَهَا). صحيح مسلم (۲ /۱۷۸) علامه د ليلة القدر داده چې ددغې شپې په سهار به لمر راخيژي په داسې حال کې چې سپين به وي داسې چې شعاعې به نلري.

د حديثو شارحين وايې چې لمر به ځکه خړ وي او شعاع به نلري چې په دغه وخت کې به زياتې ملائکې چې ځمکې ته رابنکته شوي وي ، بيرته آسمان ته خيژي او د ملائکو د کثرت د وجی نه به لمر خړ وي.

**۲-** د ليلة القدر شپه به صافه او روښانه وي ، معتدله به وي نه به په کې يخني وي ، نه به په کې ګرمي وي ، په دغه شپه کې به په ستورو ويشتل نه کيږي او د لمر ختلو پر وخت به شيطان نه راخيژي. په يو حديث کې راغلي دي:(عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ....وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَمَارَةَ لَيْلَةِ الْقَدْرِ أَنَّهَا صَافِيَةٌ بَلْجَةٌ كَأَنَّ فِيهَا قَمَرًا سَاطِعًا سَاكِنَةٌ سَاجِيَةٌ لَا بَرْدَ فِيهَا وَلَا حَرَّ وَلَا يَحِلُّ لِكَوْكَبٍ أَنْ يُرْمَى بِهِ فِيهَا حَتَّى تُصْبِحَ وَإِنَّ أَمَارَتَهَا أَنَّ الشَّمْسَ صَبِيحَتَهَا تَخْرُجُ مُسْتَوِيَةً لَيْسَ لَهَا شُعَاعٌ مِثْلَ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَلَا يَحِلُّ لِلشَّيْطَانِ أَنْ يَخْرُجَ مَعَهَا يَوْمَئِذ). مسند أحمد (۳۷ /۴۲۵)

ترجمه:- د عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دی د هغه په روايت کې راځي چې بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: بيشکه د ليلة القدر د شپې علامه داده چې دا شپه به صافه او روښانه وي لکه چې په دې شپه کې ځليدونکې سپوږمې وي او دا شپه به ارامه او معتدله وي نه به په کې يخني وي او نه به په کې ګرمي وي او نه دي په کار ستوري ته چې ويشتل ورباندې وکړی شي (يعنی شيطانان به اسمان ته نه خيژي چې په ستورو وويشتل شي) تر سهار پورې او بيشکه د ليلة القدر دشپې د علامې څخه دا هم ده چې لمر به په سهار ددې شپې کې راخيژي ګرد چې نه به وي ورسره شعاع لکه د څوارلسمې شپې دسپوږمی په شان او شيطان نشي کولای چې را وخيژي يوځای د لمر سره په دغه ورځ.